مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان
۲۰۲۳/۰۵/۲۹

# ښنګه کولی شوی؛ خپل لیپ ټاپ له دوړو او خرابېدو وساتو؟

ګرد، د کافي دغونه او د ډوډۍ ذرات؛ که ستاسي په لیپ ټاپ کي هم دا شیان موجود وي؛ نو د صفا کولو وخت یي راغی.
زیاتره خلک د لیپ ټاپ تر اخیستلو ځو ورځي وروسته د پاکولو خیال له ذهنه باسي؛ خو باید پوه شئ چي سکرین او کیبورډ باندي لوېدونکی ګرد ستاسي لیپ ټاپ خرابولی هم شي.
نو که غواړئ د دې قېمتي وخت کي پیسي وسپموئ او له نوي لیپ ټاپ اخیستلو ځان وژغورئ؛ نو په اونی کي یو ځل خپل لیپ ټاپ حتماً صفا کړئ.

### په سپرې بوتل د سکرین پاکول:

له هر څه وړاندي د لیپ ټاپ د صفا کولو لپاره د سپرې بوتل واخلئ، لومړی پکي ایسوپروپل الکول او بیا اوبه واچوئ، لږ سرکه هم ور ګډه کړئ! اوس نو سپرې تیاره شوه، چي د سکرین پاکولو لپاره ډېره موثره ده.
خو پام مو وي، چي د سکرین سفا کولو لپاره باید مایکرو فایبر رخت استعمال کړئ!
له لامده او شبنمي رخت وروسته وچ رخت را واخلئ او سکرین پرې صفا کړئ!

### د کیبورډ پاکول:

د لیپ ټاپ کارولو پر مهال تر ټولو زیات کیبورډ استعمالوو؛ خو که د کیبورډ بټنو کي ګند جمع شوی وي؛ نو د ټایپنګ پر مهال ګند ستاسي نوکانو ته انتقالیږي، چي ډول ډول ناروغی تري پیدا کیږي. نو ځکه خو د کیبورډ صفایي مهمه ده.
که تاسي پورټیبل ویکیوم کلینر لرئ، نو ژر تر ژره پري کیبورډ پاک کړئ، خو که دا سهولت نه وي؛ نو رخت را واخلئ، لومړی یي لوند کړئ او بیا پري د کیبورډ د بټنو ښندې صفا کړئ.
که یو څه مهارت لرئ؛ نو د کیبورډ بټني بهر را وباسئ، پاکي یي کړئ او وروسته یي بېرته په خپلو ځایونو ولګوئ، خو دا کار درنه ډېر احتیاط غواړي. که پکي غلط شئ؛ له نیردې تخنیکر ګټه واخلئ.

### د لیپ ټاپ ښندې او شا پاکول:

د لیپ ټاپ د چارج او یوزبي اخیستلو ځایونه په cotton buds پاک کړئ؛ څو د د ګرد او خاورو ذرې ختمې شي.
د لیپ ټاپ ښندې او شا لوري بار بار په وچې ټوټې پاکي کړئ او پام وکړئ، چي کوم ځای یي در نه زیانمن نشي.

### د بکسې ساتل:

د هر کمپیوټر او لیپ ټاپ ساتني لپاره یوه بکسه هم مهمه ده.
که غواړئ له بیروني او داخلي زیانونه، داغونو او لیکو لیپ ټاپ وساتئ؛ تر کارولو وروسته یي په بکسې کي کېږدئ.
د بکسې هر لور ته سپنج مهم دی، چي دا کار به مو کمپیوټر له درنو ضربو هم وساتي.

ژباړه: سمسور ودان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولئ